الدرس الخامس عشر
مواقف وعبر من السيرة

پنځلسم درس
د نبي ﷺ د سيرت نه اغستلئ شوی درسونه

**خوش طبعيتي** : نبي ﷺ به د خپلو ملګرو سره کله کله خوش مزاجی کوله ، ليکن په ګپ کښی به ئی هم حق خبره کوله ، د خپل کور واله سره به ئی هم خوش مزاجی کوله ، او د ماشوانو خيال به ئی هم ساتلو ، د خپل وخت نه به ئی ماشومانو له حصه ورکوله او د هغوی د حيثيت مطابق به ورسره برتاؤ کولو ، کله به ئی خپل خادم أنس بن مالک ﷺ عنه سره مزاح کوله نو ورته به ئی وئيلی (يا ذالاذنين) اے د دوه غوږونو والا ! يو سړی درخواست وکړو ، چی اے د الله رسوله ماله سورلئ راکړه ، نبي ﷺ ورته د مزاح په انداز کښی اوفرئيل : د اُوښی بچئ به درکم هغه خفه شو چی د اُوښی په بچئ به سنګه سورلئ کوم ، نبي ﷺ ورته وفرمائيلی، هر اُوښ د يوی اُوښی بچی وی ، هميشه به د نبي ﷺ په مخ مبارک باندی مُسکاء وه او د مخ مبارک نه به ئي رنړا ځليدله ا او صحابؤ رضوان الله اجمعين به تری هميشه د خير خبری أوريدلی ، جرير ﷺ فرمائی ، کله چی زه مسلمان شوم ، نبي ﷺ زه د خپل ملاقات نه منع نه کړم ، او کله به چی ما ورته کتل د نبي ﷺ په مخ مبارک به مُسکاء وه ، ما ورته وئيلی: اے د الله رسوله! زه په آس باندی نشم کلک کيناستلی ، نبي ﷺ په خپل لاس مبارک زما سينه ووهله او دا دعاء ئی راته وکړه.(اللّٰهُمَّ ثبته واجعله هاديا مهديا) صحيح البخاری ٣٠٣٦ ترجمه: اے الله ! دی مضبوط کړی او هدايت واله ئی وګرزوی ، او دغه شان به نبي ﷺ به د خپل کورنی خلقو سره هم خوش مزاجی کوله ، يوه ورځ نبي ﷺ د خپلی لور فاطمی رضی الله عنها کور ته ورغلی ، علی ﷺ کور کښی نه وو ، تپوس ئی وکړو چرته دی ، فاطمی رضی الله عنها وفرمائيل ، زما او د هغه سره په سه خبره باندی جګړه راغله غوصه شو بهر لاړو ، نبي ﷺ چی راغلی ، علی ﷺ په جومات کښی ملاست وو او څادر ئی د ملأ نه غورزيدلی وه ، نبي ﷺ په خپل لاس مبارک باندی تری خاوری سنډلی او ورته ئی وئيلی (قم أبا تراب) د خارو پلار پاسيږه..**د ماشومانو سره د نبي ﷺ سلوک** :د نبي ﷺ د خائسته اخلاقو نه د ماشومانو دپاره پوره حصه وه عائشة رضی الله عنها سره به ئی کله منډه وهله ، عائشة رضی الله عنها به د خپلو ملګرو ماشومانو جنکو سره په ګوډيګانئ لوبئ کولی ، نبي ﷺ به نه منع کوله ، عائشه رضی الله عنها فرمائيل : ما به د نبي ﷺ په کور کښی د خپلو ملګرو جنکو سره لوبئ کولی ، چی کله به نبي ﷺ کورته راغلی دوی به پټئ شوی ، نبي ﷺ به دوی په خپله د لوبو دپاره راليږلی چی زما سره لوبئ وکړی ، نبي ﷺ به د ماشومانو سره مينه هم کوله او خيال به ئی هم ورله ساتلو ، عبدالله بن شداد ﷺ د خپل پلار نه اوريدلی دی ، چی يو ورځ نبي ﷺ د ماسخوتن مونځ دپاره تشريق راوړلو ، حسن يا حسين رضی الله عنهما ئی أغستلی وه ، ماشوم ئی کينوؤ او په جماعت باندی مونځ ئی شروع کړو ، اوږده سجده ئی وکړه ، د عبدالله ﷺ پلار شداد ﷺوائی ، ما د سجدی نه سَر أوچت کړو، ماشوم د نبي ﷺ په شاه باندی ناست وو او نبي ﷺ په سجده باندی وو ، هغه فرمائی زه دوباره سجدی له لاړم ، چی کله د مونځ نه فارغه شو ، خلقو وئيلی، اے د الله رسوله ! سجده دی ډيره أوږده وکړه ، زمونږه ګمان راغلی که تاله سه وشوؤ يا وحی نازليږی ، نبي ﷺ وفرمائيل، داسی هيڅ نه وو بلکی زما بچی زمانه سورلئ جوړه کړی وه ، مانه غُښتله چی تلوار وربانده وکړم تر دی چی خپل حاجت پوره کړی ، أنس ﷺ فرمائی: نبي ﷺ د هر چانه د خائسته اخلاقو مالک وو، زما ماشوم رور ته ئی وئيلی ، اے ابو عمير! هغه (بَلبَله)د مرِغئ بچی دی څه کړو، د أنس ﷺ رور به دغه مرغئ سره لوبئ کولی ، او داسی خبرو سره به هغه خوشحاله کيدو.